واحد فقیري ۲۰۱۳/۰۳/۳۰

# کرزی: امریکایان او طالبان پټ سره جوړ دي!

د امریکایانو او طالبانو تر مینځ د پټې دوستۍ او تفاهم په باب د جمهور رئیس حامد کرزي وروستی بیان ځکه نوی نه وو چي رئیس صاحب پخپل ۱۲ کلن ریاست کي داسي عجاییات ډېر ویلي دي. هغه کله د افغانستان اقتصادي پرمختګ په نړۍ کي بېساری بللی وو. کله یې ویلي دي چي که مځکه ور ته سره سوه، له طالبانو سره به یوځای سي. کله یې د ایراني اخوندانو څخه د نغدو پیسو او رشوت پر اخیستلو باندي اعتراف کړی دی. کله یې هم د پاکستان او امریکا په احتمالي جنګ کي د پاکستان خوا نیولې ده. او کله یې ځان «زمري» تصور کړی دی، او په تور ځنګل کي یې - البته د بل په مرسته او خرابات - د یوه ارام حاکمیت دروند خوب لیدلی دی.

مګر داځل د رئیس صاحب د رورستي بیان توپیر او ځانګړتیا دا وه چي امریکایانو، طالبانو، د جمهوررئیس مرستیالانو، او په دننه او بهر کي د مدني ټولني اکثرو استازو په مختلفو درجو او شدت په یوه سلا وغندی. د سپیني ماڼۍ ویاند د رئیس صاحب همدا خبري «بې اساسه او بابېزه» وبللې. طالبانو په رسمي اعلامیو کي ملنډي په ووهلې، او دا یې د رئیس صاحب نوي «اپلتي» او ذهني «بې ثباتي» یاده کړه. د مدني ټولني استازو هم د ارګ همدا پر له پسې خطرناکه اشتباهات په کلکه وغندل، او دا خبري یې د یو داسي منزوي او کمزوري مشر ښرګندوني وبللې چي د خپل ډارونکي انجام تصویر د تاریخ په هینداره کي ویني.

خو اصلي سوال دا دی چي رئیس صاحب دا خبري ولي وکړې؟ تر اوسه پوري پدې باب څو مهم نظرونه وړاندي سوي دي. لومړی، ځیني مبصرین لیکي او وایي: کرزی صاحب پوهېږی چي خارجیان ځي او هغه یوازي پاته کېږي. هغه اوس هڅه کوي چي عام خلګو ته ځان یو افغان نشنلسټ ور معرفي کړي. په بل عبارت، ملي جامې واغوندي، او د وطن، ولس، او ملي حاکمیت شعارونه ورکړي. دوی وایي هغه غواړي چي په دننه ملک کي د ځان لپاره څه پلویان او د تېک ځای پیدا کړي. د سبا لپاره د ځان غم وخوري. هغه پوهېږي چي اکثره افغانان د بهرنیانو له درانه پل او حضور څخه ستړي او بېزاره سوي دي. حامد کرزی غواړي چي د همدې بېزارۍ او ستړیا پر څپو سپور سي او ځان او خپلو شریکانو ته د افغانستان په راتلونکې کي یو نقش او برخه تضمین کړي. هغوی وایي چي رئیس صاحب همدا توندي او احساساتي خبري د داخلي مصرف لپاره کوي.

دوهم، بله ډله سیاسي څېړونکي وایي: رئیس صاحب درک کړې ده چي بهرنیانو د وتلو پوخ نیت کړی دی.هغه مجبوره دی چي په سیمه کي د ځان لپاره ملګري پیدا کړي. هغه پوهېږي چي د بهرنیانو په نه شتون کي به د افغانستان ګاونډیان بیا د هېواد په چارو کي مهم رول ولري. پاکستان، ایران، روسیه، هند، او په سیمه کي نور ملکونه به مختلفو ډلو ته څه اندازاه مرستي برابروي. ایران او روسیه دواړه په افغانستان کي د امریکا حضور د ځانونو لپاره خطر ګڼي. په پاکستان کي هم عامه ذهنیت د امریکا پر ضد دی. نو بنا کرزی غواړي چي په سیمه کي ځان ټینګ کړي او د امریکا پر خلاف موقف غوره کړي. لنډه دا چي د هغه لپاره اوس په منطقه کي دوستان پیدا کول حیاتي اهمیت لري.

دریېم، بله ډله عقیده لري چي د امریکا او طالبانو پر ضد د کرزي صاحب وروستي ګوزارونه یوه اوږده سابقه لري او هغه داچي هر کله چي په افغانستان کي د امریکا کوم نوی سفیر او یا عمومي قومندان مقرر سي، رئیس صاحب د هغه د اندازه کولو لپاره دا راز توندي خبري کوي. هغه غواړي چي پدې تهدیدونو له امریکایانو څخه امتیازات واخلي. هغه پوهېږي چي امریکا مجبوره ده چي د ۲۰۱۴ تر پایه پوري پاته وي او د حامد کرزي حکومت تمویل کړي.

بالاخره ځلرم نظر چي لیکوال هم ورسره موافق دی هغه دا چي ارګ البته سوی دی ځکه ارګ هر څه بایللی دي. ارګ د طالبانو او امریکایانو پر خبرو باندي کنټرول له لاسه ورکړی دی، او په حکومت کي دننه د متخاصمو ډلو په


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

تناسب سخت کمزوری سوی دی. ارګ حتی د ځینو والیانو په تناسب هم ضعیفه سوی دی. همدا راز، ارګ په بین المللي ټولنه کي خپل ټول اعتبار او وزن له لاسه ورکړی دی.

دمګړی، ارګ ځان منزوی او بې اهمیته احساسوي ځکه له یوې خوا امریکا او طالبان خبري سره کوي، او له بې خوا طالبان رئیس صاحب «ګوډاګی» بلي او د هغه سره بلکل خبري کول ردوي. ارګ دونه ګوښه او یوازی سوی دی چي په هېواد کي مختلفو سیاسي ډلو د طالبانو سره د خبرو جلا او مستقل چېنلونه خلاص کړي دي. په اصطلاح شاه او ګدا ارګ بای پاس کړی دی.

د فرانسي په غونډه کي د ارګ ونډه ډېره کمه وه، او د قطر په خبرو کي هم په ښکاره بي عزته سوی دی. ارګ فکر کوي چي د نجیب چم په کېږي. ارګ په زیاتېدونکي توګه پر حالاتو باندي کنټرول له لاسه ورکوي، او هر څه یې ورو ورو له ګوتو وځي.

پای

واحد فقیري - واشنګټن


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزی بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ